ولي الله ملکزی

۲۰۲۶ / ۰۳ / ۰۲

# زماني او د زمان هېرې شوې پیړۍ




له هېواده د باندې، په ۱۹۸۴م کال کې زه د تاریخ او ژورنالېزم د فاکولتې د دریم صنف محصل ووم. ټکنده غرمه وه چې د مرکزي لیلیې او طعام خورۍ له لوډسپیکرو څخه غبرګ اعلان وشو: (نن شپه به د کنفرانسونو په لوی تالار کې یوه ستره علمي مباحثه وي) ورپسې یې وویل:(ننني ځانګړی مېلمه، د هندوستان څخه راغلی د استدلال، اعتدال او زغم سمبول علامه ابوالحسن علي الندوي دی).

ماښام د تالار دواړه لوژونه تر خولې ډک شول؛ څه طالع وه او څه د لاس صفايي ماته د ستېج خوا ته نژدې چوکۍ پیدا شوه. مَلَمَلي سپینه قره قلي په سر، خړچکی ساده بالاپوش په تن او د لکنهو تیله داري پنې په پښو د خپل مهال خوله ور لیکوال، هال ته راننوت. له علیک سلیک او لنډي سریزې وروسته؛ د خپل کتاب «ماذا خسر العالم بانحطاط المسلمین - نړۍ د مسلمانانو په زوال سره څه له لاسه ورکړل؟» فهرست او د څو څېرکو سرلیکونو ته تم شو. دغه اثر د لومړي ځل لپاره په ۱۹۵۰م کې چاپ شوی او پنځه فصلونه لري چې په هغو کې د جاهلیت عصر، انسانیت مخکې له بعثت څخه؛ د اسلام لومړنی دوره؛ د تمدن عروج او انحطاط؛ اروپايي تمدن، د مسلمانانو د احتمالي رهبری نظریه او د اخلاقي زوال غمیزه شامل دي. دا کتاب د انګریزي، فرانسوي او فارسي په ګډون، په لسو ژبو ترجمه شویدی.

له ښایسته ډېره وخته مې په زړه کې دا تلوسه په تیندکونو وه چې زه به یې پښتو ته ژباړم؛ ترڅو په ګردنی او پنځه ډزي ټوپک مېین پښتانه له دغسې ویاړمني ماضي سره خپل حال او راتلونکي کوښښ کړي. په عین حال کې، دا هم په یاد ولري چې د قلم نوکه د ټوپک له شپېلۍ څخه تېزه او اعتدال له افراط څخه ډېر غوره دی.

پرون مازیګر، د ژبې لمر وروستۍ سلګۍ وې چې یو مینه ګرکي دوست مې د واتساپ په لیکي د تېرو پېړیو د عظمتونو د ۱۱ سرلارو اړوند، یو آنلاین کتاب راولېږه چې عنوان یې دی «هېرې شوې پیړۍ او د اسلام زرین دور» د ۱۴۹ مخونو دا کتاب زما یونازولي او نالیدلي اشنا، شوکت زماني لیکلی چې د تخصص ډګر یې اقتصاد او تجارت دی.

د لیکوال زماني دا هڅه، د تمدني چاپېرېال د لا زیاتې پېژندګلوۍ په اړه پراخه او مهم بحث رامنځته کوي. ټول کتاب مې لا نه دی لوستی څو ماته د عامه پوهاوي او کلتوري روایت د بیا را ژوندي کولو او څېړنیز باور د مزبوتولو په برخو کې یوه بریالۍ هڅه ده. په علمي ډګرونو کې د اسلام زرین دور د عباسي خلیفه، مامون الرشید له واکمنۍ او د بغداد د علمي مرکزونو سره وېلډنګ شوی برېښي. په دې پیر کې د بیت الحکمه په څېر بنسټونه جوړ شول چې د یوناني، فارسي او هندي علومو ژباړې او پراختیا ته یې بده وهلې وه. ښاغلی زماني استدلال کوي چې د اسلامي تمدن حیرانوونکي پرمختګونه یوازې د ترجمې غورځنګ نه وو، بلکې یو نوښتګر، تولیدي او فکري نظام وو چې وروسته یې اروپا ته د انتقال لاره هواره شوه، په ځانګړي ډول د اندلس او شمالي افریقې له سمندري پولو څخه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

د کاشغر وربېښميني لارې، د بخارې ګومبزې، د بغداد کتابخانې، د دمشق منارې او د غرناطې او الحمراء دنګې ماڼۍ همدا نن هم د خپل ستر مدنيت او هېر شوي عظمت شاهداني دي. موږ چې د «اقْرَأْ» او همدا شان د «نٓ، وَٱلْقَلَمِ» امت يو، ولې دومره نېستمن، وېشل شوي او له پوهې او عصريت سره په ژورې دښمنۍ اخته يو؟ موږ ولې د قبر، سقاط، پل صراط، د تراويح په رکعتونو او تعويذونو په روا او ناروا کې بند پاتې يو؟ موږ ولې د عروج په خوږو يادونو د خولې خوند سازوو او د مصنوعي ځيرکتيا او ټکنالوژۍ په پېر کې په خاړپوخو مزل کوو؟ زه فکر کوم د دې کتاب لوستل به د دغو لاجوابه پوښتنو په ځوابونو کې بې ګټې نه وي او نوی کول به ورڅخه ډېر څه زده کړي.

د «هېرې شوې پېړۍ او د اسلام زرين دور» کتاب، تمدنونه يو له بل څخه جلا نه، بلکې يو پر بل متکي بولي او د تاريخي شالید په روښانه کولو کې يې ونډه مهمه ګڼي. دا اثر نه يوازې د پرتليز تاريخ د بيا کتنې بهير په نښه کوي، بلکې د تهذيبونو ترمنځ د متقابل درناوي او علمي همکارۍ بلنه هم ده. کتاب په رواني، خوږې او ځنځيري لهجې ليکل شوی او د پښتو ژبې په غنا کې يوه مهمه اضافه ده. دا اثر ښيي چې اسلامي نړۍ د منځنيو پېړيو په مهال د علم، عرفان او منطق مرکز وو او معاصر اروپايي مدنيت يې له اغېزو بې برخې نه دی. له همدې امله، نه يوازې تاريخي ارزښت لري، بلکې د ايډيالوژيک هويت او انساني ارزښتونو د پياوړتيا لپاره هم مهم بلل کېږي.

د دې کتاب په مهمو موضوعاتو کې د علم او فلسفې وده او د اسلامي مفکرينو لکه ابن رشد او ابن سينا طبي او فلسفي خدمتونه څېړل شويدي. ابن رشد د ارسطو فلسفه تشريح کړه چې د اروپايي رنسانس پر فکري بنسټونو يې ژور اغېز وکړ. د الجبر د بنسټګر محمد بن موسی الخوارزمي يادونه کوي، چې د فلکياتو، کيميا او انجنيرۍ په برخو کې د مسلمانانو نوښتونه په ګوته کوي. همدا شان د ابو ريحان البيروني، فخر الدين رازي، ابو نصر فارابي، ابن خلدون او ابن الهيثم په څېر مشاهيرو يادونه راتازه کوي او انساني ټولنې ته د هغوئ تلپاتې شاهکارونه ورپېژني.

پخوا به چې د کونړ د لوی خان (مير زمان خان) نوم ياد شو، نو د ارنوئ جګړه، د دغه غازي سياستوال او شاعر زوئ، محمد هاشم زماني او لمسی ډاکټر عبدالرحمن زماني چې د دوه ويشتو کتابونو ليکوال دی، د ذهن په هنداره کې مجسم شول. مګر اوس يې کړوسی، شوکت زماني د دې غوربدلي کورنۍ په لمنې کې د يو غمي په څېر وځلېد او د هېر شوي تاريخ لوستونکو ته يې له الهامونو ډکه او ارزښتناکه صندوقچه سوغات کړه.

په ژوند، قلم او هڅو يې د برکتونو شيبې شيبې بارانونه

---

يادونه: که لوستونکي وخت او علاقه لري، کولای شي د ملکزي نورې ليکنې او څېړنې د هغه په فيسبوک او يوټيوب چينل کې ولولي او وګوري. ادرس يې دا دی: Wali Malakzay



د ليکوال نورې ليکنې په دې لينک کې ولولئ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ